SHARIAT

شریعت

په اوونی کي دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان

پنځم کال نهه شپېتمه گڼه پرله پسي (۳۵٦) شنبه د۱٤۲۱ هـ ق کال دجمادي الثاني (۲٥)
د۱۳۷۹هـ ش کال د تلي دمیاشتی (۲) د ۲۰۰۰ میلادي کال د سپتمبر (۲۳)

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي ! ،
همدا (عدل) ډېر نږدې دی
تقوا (پرهېزگاری) ته .
(سورة المائدة)

توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بي حرمتي بگذارید.

شرکتهای امارات متحده عربی :

هیأت شان را به افغانستان اعزام میدارد

کابل باختر :
شرکتهای مختلف مقیم امارات متحده عربی هیات مشترک شانرا جهت سرمایه گذاری در پروژه های آبیاری وبرق درماه آینده عیسوی به افغانستان اعزام میدارند . طی ملاقات که محترم مولوی احمد جان وزیر آب وبرق در دوبی با مسوولین تعداد از شرکتهای مقیم امارات متحده عربی داشت در رابطه به پروژه های آبیاری وبرق وزارت آب وبرق بحث وتبادل نظر صورت گرفته ومحترم وزیر آب وبرق درزمینه به ایشان معلومات لازم داد . سپس مسوولین ونماینده گان شرکتهای متذکره دلچسپی شانرا در قسمت پروژه های وزارت آب وبرق اظهار داشته ووعده نمودند که بتاریخ پانزدهم ماه آینده عیسوی هیات مشترک شانرا جهت سروی تحقیق وکسب معلومات در رابطه به پروژه های وزارت آب وبرق به افغانستان اعزام نموده ودر پروژه های مورد نظر خویش سرمایه گذاری خواهند نمود .

شهریان کابل ریزش کوتاه باران را در جاده های شهر به فال نیک گرفتند

شریعت :
حوالي ساعت ٥الي ٦ شام روز جمعه بعداز یك وقفه طولاني قطرات ریزش باران دانه دانه جاده هاي شهرکابل را شستشو نمود خبرنگار مادر زمینه خبرداد : شهرکابل که از طي چندماه بدینسو تحت آفت خشکسالي قرار دارد ومدت زیادي میشود که درین شهر ریزش باران صورت نگرفته است اهالي این شهر هطزن ومرد ، خوردسالان وسالمندان شام جمعه این باران را به فال نیك گرفته وقدم قطرات کوتاه این باران را ازدرگاه پروردگار قادر وتوانا به نیت ختم خشکسالي درکشور وبازشدن دریچه هاي رحمت باراني به تداوم این ریزش در طبیعت زیبا ي شهر شان استدعا داشتند . انشاالله

دلوي څښتن په نصرت :

شیرخان بندر، آی خانم، دشت ارچي او دامام صاحب ولسوالی فتحه شول

دپورتنیوسیمو په نیولوکی دسیمي خلکو داسلامي اردو له ځواکونو سره بشپړه همکاري درلوده

ددغو سیمو په فتحه کولو سره دمخالفینو جنگي ماشین بېخي له فعالیته لوېدلی

په نیول شویو سیموکي مخالفینو زیاته اندازه وسلي او مهمات هم تر شا پرېښي دي

موړال بایللي مخالفین له نیول شویو سیمو نه دتېښتي په حال کې دي

دلوي خداي «ج» په نصرت او مرسته او داسلامي اردود مجاهدینو میړاني او سرښندني له امله دشت ارچي او دامام صاحب ولسوالي شیرخان بندر او دآي خانم سترا تیر یکي سیمه پرن سهار فتحه او دیاغیانو او شراچو ونکو له ناو لتیا څخه پاکه شوه دباختر اطلاعا تي آژانس
٤ مخ

ایران راکت دوربرد شهاب سه را مورد آزمایش قرار داد

کشورایران دیروز راکت دور برد موسوم به شهاب سه را موردآزمایش قرار داد طبق گزارش رادیو تهران ساحه بردابن راکت یکهزار وسه صد کیلو متر میباشد که ذریعه آن میتوان کشور هاي اسرائیل وترکیه را هدف قرار داد وزیر دفاع ایران گفته است که این
ص ٤

درشهرمزارشریف:

یک تن سارق دستگیر گردید

شخصیکه به سرقت ودزدی اموال مردم ما متهم بود اخیراً توسط موظفین امنیتی دستگیر گردیده است . موظفین کمیسیون
٤ مخ

در ولایت بامیان :

بند ذخیره کرنغدو شهیدان احداث گردید

بامیان باختر :
بند ذخیره آب منطقه کرنغدو شهیدان ولایت بامیان احداث میگردد. . کار
ص ٤

به هرات کي :

په اړو خلکو مرستي وویشل شوی

هرات باختر :
دځه دیاسه شپږ وملیارد و اووه شپېته ملیونوانه سوه اویا زرو افغانیو په ارزښت یوه اندازه خوراکي مواد او جامې دهرات ولایت په نهه سوه شپږدېرشو بې وزلو اومستحقو کور نیو با
ص ٤

در گردیز هشت هکتار زمین از بته های چرس پاکسازی گردید

گردیز باختر
ساحه هشت هکتار زمین در مربوطات شهر گردیز ولایت پکتیا که در آن بته های چرس زرع گردیده بود اخیراً پاکسازی گردید . مؤظفین ریاست
ص ٤

په جوزجان کی :

یوه اندازه چرس وسو ځول شول

جوزجان باختر:
دجوزجان ولایت په مربوطاتو کی په دی وروستیو وختوکي یو نیم کیلو گرامه چرس وسو ځول شول او له منځه یوړل شول .د شبرغان
ص ٤

په پکتیاکی :

دوه مدرسی پرانستل شوی

پکتیا باختر:
دپکتیا ولایت په مربوطاتوکی په دی وروستیو وختوکی دوه دیني مدرسی پرانستل شوی . دپکتیا ولایت مرکز دگردیز له
ص ٤

در مدرسه حبیبیه حدود ...۲ طالب العلم به فراگیری دروس مشغول میباشند

شریعت : خوانند گان غزیز !
خبرنگار ما اخیراً از مدرسه عالی حبیبیه دیدن نموده وپیرامون تاریخچه وفعالیت های این کانون تعلیمی مصاحبه را با محترم ملامحمد ظاهر رحیمی مدیر عمومی مدرسه حبیبیه انجام داده است که توجه شما غزیزان را به خوانش ان معطوف میداریم. درآغاز محترم مجاهد ملامحمد ظاهر رحیمی مدیر عمومی مدرسه عالی حبیبیه چنین توضیحات ارایه داشتند .
چون تاریخ لیسه ها تاریخ تکامل تدریجی تدرسات ثانوی در افغانستان را تشکیل میدهد بنأ برآن دراینجا بتاریخ سیر وانکشاف مدرسه حبیبیه می پردازیم .تاریخ تدریسات ثانوی درکشور ما از عصر امیر
ص ٤

دکلیو دپراختیا عمومی ریاست :

دافغانستان په کلیو او بانډوکی فعالیت کوی

شریعت : درنواوقدرمنو لوستونکو ! اوس ستاسی پام دهغی مرکی ته اړوو چې زموږ خبریال دکلیو دپراختیا دعمومي ریاست له اداري مرستیال محترم مولوی رحیم الله سره دده دکار په دفترکی کړی ده . په پیل کی دکلیو د پراختیا دعمومی ریاست اداري مرستیال محترم مولوی رحیم الله داسی وویل : دکلیو دپراختیا عمومي ریاست له خپلو هراړخیزو پلانونو سره سم دهیواد په کلیو او بانډوکی په لاندی ډول کارکوی .
۱- داوبورسولو او چاپیر یال ساتني په برخه کی :
دکلیو خلکوته داوبو رسولو او چاپیریال ساتني په ساحه کی دیرمه یی ځاگانو کیندل او بیبو تصیول ، داوبو رسولو دشبکو جوړول ، دروغتیایی تشنابونو جوړول او روغتیایی لارښونې او تبلیغات شامل دی .
۲- دساختمانی او مواصلاتی پروژو په ساحه کی :
په دی ساحه کی دآبیاری پروژې لکه : سر بندونه ، دکاریزونو او ویالو بیا احیا او پاکول ، دکلیو پرسرکونو کړې اچول ،دپلونواو پلچکو نو جوړول دهستوگنی دکورو نو جوړول او داداری ودانیو جوړول شامل دی .
۳- دټولنیز وچارویه برخه کی :
دکلیو دپراختیا عمومي ریاست له خپلو اړوند و پلانونو سره سم دخلکو روغتیا یی ستونزی لری کوی او دلاسی صنا یعویه برخه کی — — لکه گنډلو ، غالی او بدلو ، ټغر او بدلو او دغه راز دکرنی داصلاح شویو تخمونو درواجولو او دچرگانو دروزني دفارمو نو دجوړ ولو او همدارنگه دکلیو په سطحه دمدرسو اولیک لوست
٤ مخ

دادکلیو دپراختیا دعمومي ریاست ښکلي او دنگه ودانۍ ده چې دکابل په زړه کې موقعیت لري . عکاسي یوسف

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

ملگری ملتونه دی په افغانستان کی موجود حقائق ومنی !

، دافغانستان اسلامی امارت دپلازمینی په شمول دهیواد په سلوکی (۹٥) برخو باندی کلکه واکمني لری ټول لوی ښارونه ، بندرونه او هوایی ډگرونه یی په لاس کی دی ، په ټول هیواد کی یی ښه نظم او سمون راوستی او ټول سیاسی ، اقتصادی او ټولنیز فعالیتونه یی دڅارنی لاندی دی همدارنگه دهیواد په لراوبرکی یی عدلی نظام او محکمی فعالی کړی او هر ډول مجرم ته مناسبه سزاو رکول کیږی لنډه داچی حکومتی ذمه واری یی ټولی سرته رسولی دی له
ص ۲

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دبوي ګڼي بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پست بکس : (٤۷۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱
جاري حساب : ٤۰۳۸۵/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتی مطبعه

دسرمقالی پاتی برخه

بلی خوابنه پراخ ملی او عوامی ملاتړهم لری ، په ټولو ولسو الیوکی دعلماً و شوری ګانی او دسپین ګیر و او مشرانو قومی ټولنی چی دامارت سره اړیکی او تفاهم او داولس پوره استاز یتوب کوی جوړې شوی دی او دامارت لومړنی قیام هم دهمدغسی لویو شوراګانو په ترڅ کی .... - - - - .... رامنځ ته شوی چی په کندهار او کابل کی جوړی شوی وی دیادولو وړ ده چی تراوسه پوری دافغانستان ټول حکومتونه دهمدغسی یوه دودیزنظام په بنسټ رامنځ ته شوی او بیا نړی والو هم دبوی قانونی اداری په حیث ورته کتلی او معامله یی ورسره کړی ده دافغانانو پخوانی حکومتونه خوځیني لا ډیر په ضعیفو معیارونو منځ ته راغلی و او هغه نوی نړی وال نظام چی په جمهوریت او دیموکراسی نومول کیږی ، هیڅکله هم دلته نه دی عملی شوی او دجمهوریت خوتش یونوم وچی هیڅ حقیقت یی نه درلود په همدی شان کمونیستي رژیم چی دیوی خونړی کودتاپه اساس منځ ته راغلی ود ۱۵۰ زره روسی یو ځ ـــ او ټول سوسیالستی بلاك په اقتصاداو نظامی مرستو ولاړو . چی په خپل خوارلس کلن دورکی یی دیو نیم میلیون افغانانو وینی وبهولی خوله بده مرغه یوازی دهمدی دولتی حاکمیت او کنترول په اساس چی هیڅ ډول ملی حاکمیت او ولسی ملاتړیی نه در لود بیا هم دنړی والی ټولنی له خوا په رسمیت پیژندل شوی و په هغه وخت کی شپږ ملیونه هیوادوال په هجرت کولو اړشول او په هیڅ یوه ښار او ولسوالی کی دیوی ورځی امنیت هم نه و راغلی خو بیاهم حکومت او قانونی اداره ورته ویل شوی و او نن سبا خو لا دنړی والی ټولنی له خوا یوی داسی ډلګی ته دقانونی حکومت نوم ورکړی شوی چی دهیواد په ډیر شو ولایاتوکی پریوه ولایت هم بشپړ ، واکمنی نه لری او همداهغه تکی دی چی افغان ولس یی دنړی والی ټولنی په هکله بیخی بی باوره کړی ، ځکه په تکراری ډول یی ولیدل چی نوموړی ټولنه دلاس پو څو او پردی پا لو ډلو ملاتړ او مرسته کوی او هیڅکله دولسو نو غوښتنی په پام کی نه نیسی د ملګروملتواونورو مغرضو هیوادو دغه پالیسی په حقیقت کی دغو ځ اکثریت افغان ولس سره جګړه اودښمنی ده او همدغه پالیسی ده چی دلته یی ترکلونو کلونو دکورنی جګړی دغځو لو اسباب برابرکړی دی ملګری ملتونه باید دیو اوبل هیواد په لمسون عمل ونه کړی ، خپله بشپړه بی طرفی وساتی او د ولسونو غوښتنی په پام کی ونیسی دافغانستان اسلامی امارت دټول مؤمن او مجاهد افغان ولس دیوازنی رښتینی استازی په توګه له ملګروملتواو ټولو سوله دوستو خپلو اکو هیواد وڅخه په کلکه غوښتنه کوی چی نوردی واقعیتونه ومنی ، خپل بی پری حیثیت دی وساتی او دافغانستان اسلامی امارت دی دافغان ولس دقانونی او نماینده حکومت په توګه په رسمیت وپیژنی او دهغو غرضی او له دښمنی ډکولاس وهنو مخنیو ی دی وکړی چی دیر یمانه نظامی مرستو په رالیږ لو دجګړه مارو ډلو ملاتړ کوی او دجګړو داوږ دیدلو باعث ګرځیدلی د ی .

عدل او انصاف د اسلام په رڼا کې

د عدلیې وزارت له خپرونو څخه

د نظام الدولة والقضا، والعرف في السلام ۹۲ صفحه کی راغلی چی محمد بن کعب یو تکړه تابعی د وخت د خلیفه حضرت عمر بن عبدالعزیز د یوه سوال په ځواب کی چی عدل څه ته وایی ؟ داسی ویلی : تا د یو ډیر لوی شـــی په باره کی پوښـــتنه وکـــړه .کشرانو ته به د پلار په حیث، مشرانو ته د زوی په حـیث او همـزولو ته به د ورور په حیث، او ښځو لپاره به هم په همـدی قــسم اوسی او خلکو ته به د دوی د ګـنـاهـونـو پـه تـنـاسـب مجازات ورکوی.

نو ځکه د ابن کثیر د څلورم جلد په ۲۲۳ مخ کی حضرت عبدالله بن عمر «رض» روایت کـوی چی آنحضـرت «ص» د عـدل د فـضـیلت په هکله فرمایی : په دنیا کی انصاف کوونکی خلک به د الله «ج» حـضـــور ته د ملغلرو په منبـرونو کـینـی دا ځکه چی دوی په دنـیـا کـی عـدل او انصاف کوونکی وو .

نو ګـرانو مــسلمـانانو ورونو ! دا یو ډیر اوچت مقام دی کوم چی په ذکر شوی حدیث کی زمـونږ سـردار عـالم پیغمبر «ص» عدل کوونکو ته د زیری په شان وړاندی کړی نو که زمونږ او ستـاسـو ټولو د الله «ج» حضـور ته د مخامخ کیدو ارمان وی ، راځی چی پخپلو ټولو معاملو ، راکړه ورکړه او په راسپارل شوبو دندو کی د عـدل او انصـاف څخه کـار واخلو تر څو خدای مکړه چی د دنیـا دا څو ورځی فـانی ژوند مو د دا ډول عظیم الشـان زیری د لاس تـه راوړلو پخـاطر بیهوده او عبث تیر نشی.

همدغه راز د فضیلة العادلین من الولاة په ۱۳۳ صفحه کی د حضرت ابو هریره «رض» څخه روایت دی چی فـخـر مـوجـودات ، سـرور کـایـنات «ص» فرمایلی دی دری کسان دی چی دعاپي نه ردیږی (قبلیږی) :

اول : د الله «ج» یادوونکی او ذکر کوونکی .

دویم : د مظلوم دعا .

دریم : عـادل او انصـاف کـوونکی مسؤل (پاچا) چی پدی هکله د «شرح مسلم» په اول جلد ۱۹۷ صـفحـه کی د امـام نووی «رح» په زړه پوری نصیحت حکومتی واکدارانو ته داسی بیانوی.

- په حکومتی مسؤل باندی لازمه ده چی خپلو ماتحـتو کسـانو او دندو سـپـارونکو مـــسؤلینو ته وعظ او نصـیـحت وکـړی او د خـدای «ج» په وېرې ورته حکم وکـړی او د ظلم څخـه په منع کـولو کی یی ډیر زیات کوښښ وکړی او دوی ته د ظلم د انجام په هکله خبر داري ورکړی او پدی یی پوه کړی چی کـه څوک عـدل پرېږدی ظلم ته په عدل ترجیح ورکړی نو الله «ج» به یی د ظلم په بدل کی د ذلت او رسوایی سره مـخامخ کړی ځکه پدی اړه د تفـسـیـر المنار په شپږم جلد ۲۷٤ صفحه کی د نومـوړی کـتـاب مـصنف «رح» د دی آیت کـریمـه چی الله «ج» فـرمـایلی: «عدل وکړی همدا عدل پرهیز ګاری ته ډیر نیږدی دی» تر تفـســیـر او څیـړنی لاندی تیـمـستي لیکنه لری غواړو چی خپلو مـحـتـرمـو هیـوادوا لو ته یی وړاندی کړو.

د لوی خــدای «ج» دا عــادله پاچاهی په همدی جاری ده چی د عدل پریښودل او انصاف نه کول په دنیا کی د امت د ذلت او سپکاوی سبب ګرځی . نور قـومونه (کـفری دولتونه او کـفری ډلی) به د دوی په اسـتــقـلال او آزادی تیـری کـوی خـامـخـا د آخرت جزا ډیره ذلیلوونکی ، ډیره رسـوا کـوونکی ډیره سخته او باقی پاتی کیدونکی ده .

مـحـتـرمـو مـسلمـانانو ورونو! د مصنف دیـرزښي لیکني څخه داسی درس اخلو چی ټول اسلامی امت دې څپلو کړنو کی انصـاف په نظر کی ونیـسی خدای مکړه چی د دنیـا او آخـرت له دردناکـو عذابونو سره به یی مخه شی .

دا چی نن ورځ ګورو په ټوله نړی کی اسلامی امت ذلیل او استقلال یی د لویو او کوچنیو قدرتونو په وسیله غصب او تر پښو لاندی شوی یوازینی علت او انګیزه یی د اسلامی شریعت په رڼا کی د عدل او انصاف نه پلي کیدل دی.

همدارنګه د (الشـفـا ، في مـواعظ الملوک والخلفا ،) په ٤۷ صـفحـه کی د عـادل مـــسؤل په هکله د حضرت ابوبکر «رض» څخه روایت دی چی رسـول اکرم «ص» فرمایلی دی .

عــادل او عــاجـزی کـوونکی والی مــــسؤل پر مـخکه باندی د خـدای «ج» سیوری او رکن دی ، د عادل او متواضع والی لپاره د شپـیـتـو صـدیقینو عـمل ورکـولای شی چی ټول عـابدین او د خپل نفس سره مجتهدین وی .

د ابن کثیر په اول جلد ٥٦٦ صفحه کی په یو بل حدیث شریف کی راغلی دی :

بیشکه خدای «ج» له حاکم سره دی . (مطلب دا چی معـاونت ورسره کوی) تر څوچی یی ظلم نه وی کړی هر کله چی یی ظلم وکړ خپل نفس ته یی سپـاری په یـو بـل روایـت کـی راغـلـی دی چی شیطان ته یی سپاری .

راځي چی د هغوشپږو کسانو د حال څخه مو باخبر کړو کوم چی د روح البیان په دوهم جلد ۵۰ صفحه کی یی یو حدیث شـریف بیـانوی : حضـرت رسـول اکـرم «ص» فــرمـایلي دی : شـپـږ نفـره به د حساب څخه د مخه دوزخ ته داخل کړای شی یو چا پوښتنه وکړه ای رسـوله «ص» څوک دي هغه شپږ کـسان ؟ ویی فرمایل : حاکمان د ظلم په وجه عربان د عصبیت او قومیت په وجه دهقانان د کبر او غرور په وجه تاجران د خیانت په وجه، د کلیو او صحرا خلک د ناپوهي په وجه علما به د حسد او کینی په وجه د حساب کولو نه مخکی دوزخ ته ځی.

هغـه ضـروری مـسـئلی چی خلک ځنی غافل دی :

د فقهی شریفی کتـابونه حکم کـوی چی له قدرت سره قرض اخیـستل ګناه ده او همـدا راز بیـا چی چا قـرض کـړی وی قـرض نه ورکـول هم ګناه ده او قـرض ادا کـول د قدرت یا وجود فـوراً واجب دی او نه ادا کول یی کبیره ګناه ده .

ږیره خریل اووهل لوبه کبیره ګناه ده ځرنګه چی د ږیری وهل حـرام کـار دی همدا راز د بریتـونو په لنډ یدو هم رسـول «ص» امر کـړی او ددی خبری د اثبـات لپاره دغه حدیثونه واضح دلیل دی.

دحـضـرت ابن عـمـر (رض) څخـه روایت دي ، دي وائي چی رسـول کـریم (ص) خپل مـسلمـه امت ته امر کوي او وائي چي تاسـو مـخـالفت وکـړي د مشـرکـینو سره په دي ډول چي تاسـو خـپـلي ږیري پرېږدي او بریتـو نه مولنډ کړي .

او په یو بل حـدیث شـریف کي داسي وایي :

حضـرت زیدابن ارقم (رض) څخه روایت دي ، دي وائي چي په تحـقـیق سره رسول کـریم (ص) ارشاد فرمایي چي هر هغه څوک چي بریتـو نه زمـا پر طریقـه نه اخلي زما دامت څخه نه دي.

افغان - چین سیاسي تعلقات د سیمي شیرازه ده

فــــاروق

چین یو لوی او لرغـونی ملک دی چی د نړی په بر سر کی مـوقـعـیت لری او د ټول بشـر نږدی سـمـه نیمایی برخه وګړی همدغه چین او شاوخوا کی هـستوګن دی او دومره زوړ تاریخ یی دی چی وایی د بنیادم رومبنی میشـتـه هم په دغي سیـمـه کی وه مونږ هم د چین په ګاونډ او هغی اوږدی یوختـی لاری کی پراته یو چی د لویدیځ او عـربی خلیج نه د وریښـمو د لاری په نامه د انسـانانو همدی لوی کلی ته راغځیدلی وه نومـوړی لار کـه څه هم د الوتکو د هوایی چلند نه مخکی ډیره ارزښت منه وه خو اوس یی هم نیـمګړی نه شـو بللای، ځکه چین ته په کـرنه، جوړونه او سـوداګری کی ډیرو خلکو ورمخه ده دا چی نن سبا څه سیـمـه ایزو شخړو ګوندیو او نویو نړی والو سیاستونو په دی لار کی څه ستونزی را پیدا کړی ، او ددی سیـمی د خلکو تر منځ یی د ښـو اړیکو او راشه درشـه مخه نیولی نو په سیـمـه ایز اقتصـاد یی هم بد اغـیـز پریوتلی نو ټولو اړوندو لوریو ته ښـایی چی د دغـه ایـسـارتیـا له منځه یو سی او خـپلی سیمی ته ودانی او سوکالی راولی خو ښیا ترهر چازیات افغانان دی خبری ته ډیره اړتیا لری او د چین لپاره هم په ښو اړیکو کی ډیره ګټه ده ولی دا ځکه چی یو خو چین کولای شی د افـغـانسـتـان د واخان، بلخ او هرات نه په غځیدلی لار د ایران خلیج، ترکیـې او عربی خلیج ته خپل تولیدات ویاسی او دا ښکاره ده چی همدغه سیمی د چین لپاره تر ټولو غوره مارکیټونه هم دی له بلی خوا دا هم کیدای شی چی د چین په مرسته د واخان او کونړ په سیندونو د بریښنا د تولید بندونه جوړ شی، کوم چی ډیره زیاته بریښنا تولیدولای شی او زمـونږ د اړتیـا نه زیاتی برخه یی چین ته په آسانی سره لیږدیدای شی همدارنګه د چینی پانګوالو لپاره په افـغـانسـتـان کی تر ډیری مودی د کار او پانګی اچونی هم ښه موقع ده او مصنوعات خوبی دلته بیخی ښه چلیږي له بلی خوا اوسنی نړی وال سـیـاست هم ددی غوښتنه کوی چی زمونږ او چین تر منځ ښایی ډیر ښه تعلقات او اند یوالی موجـود وی او دواړه خـواوی باید هغـه لاســونه لنډ او وپیـژنی چی د ښـو اړیکو مخنیـوی کـوی اوس به دا خبـره هر چاته ځرګنده شوی وی چی امریکا په ختیځ کی د هند نه د ځان لپاره یوه قـوی هډه جوړول غـواړی کـومـه چی شـاوخوا سـیـمی او خـصـوصـاً چین ته سـخت ګـواښـونه پیښـولای شی او له همدی کبله ډیره اړتیا لیدل کیږی چی باید چین هم په سیمه کی داسـی دوسـتــــان ولری چی خطر دفع او تهـدیدونو ته ځواب وویلای شی خو په هر صـورت نن چی مـونږ ترپوال د باو لاندی یو او د ملګرو ملتـو بندیزونه هم ورځ تر ورځي په زیاتیدو دي، نو د چین سره په ملګرتیا کولای شو یو څو د ګوښیتوب نه ځان وباسو بل دا چی چین د ویټو حق په لرلو سـره په امنیت شـوری کی ډیر څه نور هم کـولای شی نو د یورتنیـو مـصلحـتـونو په اساس ډیره ضروری ده چی باید له چین سره ښی اړیکی ولرو ، راشه درشه او سوداګری وکړو او د امارت مـسؤل چارواکی هم باید هڅه وکړی او چین ته بیلا بیل پلاوی ولیږی او هغوی ته داډ ورکړی چی افـغـانسـتـان به یی یو نیـک ګاونډی وی ښایی په دی هکله ډیر ژر د چین مــشــران باوری او دی ته وهڅولای شی چی افـغـانسـتـان سـره ښی اړیکی ولری نو کـه دا اتکلونه سم وخیژی او سیمه ایزه ملګرتیا پیل شی، هغه ورځ به لری نه وی چی دغه چاپیریال دادمن سوکاله او شیرازه وګرځي.

با بهترین های تکواندوی جیدو کوان آشنا شوید

خوانندگان عزیز! درین شماره بهترین های تکواندوی جیدو کوان کلپ حیدری را به معرفی گرفته ایم . امید است مورد علاقه شما عزیزان واقع گردد .

قهرمان مبارزه :

حرمت بلال یاسر فرزند فتح محمد که تمرینات تکواندو را تحت نظر استاد آرین خیبر در کانون ورزشی تکواندوی جیدو کوان کشور در سال ۱۳۷۲ آغاز نموده یکی از بهترین های مبارزه تکواندو (فول کنتاکت) میباشد . موصوف درمسابقات زیادی اشتراك ورزیده و تا الحال مقام قهرمانی خودرا در وزن پنجم حفظ نموده است .

نامبرده از سال ۱۳۷۸ قهرمان وزن سوم تیم ملی کاراته کشور شناخته شده» اساس پیروزی خویش را تمرینات خستگی ناپذیر و شفقت استادش میداند .

قهرمان مسابقات :

بشیر احمد پویل فرزند عبدالبصیر درسال ۱۳۵۷ در شهر کابل زاده شد موصوف تمرینات تکواندو را در سال ۱۳۷۲ تحت نظر استاد آرین خیبر در کانون ورزشی تکواندوی جیدو کوان آغاز نموده و یکی از بهترین های مسابقات تکواندو میباشد وی بهترین مسابقه خودرا چندی قبل در شهر جلال آباد انجام داده بعنوان تکواندو کار خوش تکنیك شناخته شده است . نامبرده راز موفقیت خودرا فقط و فقط تمرینات پی در پی و احترام به اصول اساسی ورزش میداند .

قهرمان سرعت :

محمد اسحق سنگری فرزند محمد عیسی در سال ۱۳٦۰ در شهر کابل زاده شده تمرینات تکواندو را در سال ۱۳۷۳ تحت نظر استادش آرین خیبر در کانون ورزشی تکواندوی جیدو کوان آغاز نموده است وی یکی از بهترین های سرعت شناخته شده و اساس پیروزی اش را صرف و صرف احترام به استاد ، تمرینات اولیه در کانون - و عرق ریزی درجریان تمرین **میداند**

قهرمان پرش :

بصیر احمد بورش - فرزند محمد حکیم - در سال ۱۳٦۰ در شهر کابل تولد گردیده تمرینات تکواندو را تحت نظر استاد آرین خیبر در کانون ورزشی تکواندوی جیدو کوان آغاز نموده و یکی از بهترین های پرش میباشد موصوف در سال ۱۳۷۸ در مسابقات فول کانتاکت کاراته تیم جوانان در وزن چهارم مقام اول را کسب نموده است و رمز موفقیت خود را اتکابه اصول اساسی سپورت، تواضع ، ادب ، نزاکت ، احترام به استاد و بزرگان و تمرینات بدون وقفه میداند.

قهرمان حرکات جهشی :

ایرج فرزند عبدالهادی در سال ۱۳٦۱ در شهر کابل بدنیا آمده و تمرینات تکواندو را تحت نظر استاد آرین خیبر در سال ۱۳۷۲ آغاز نموده است وی یکی از بهترین های لگدهای جهشی بوده وبهترین لگدها را به قدرت جهشی تلفیق می نماید . نامبرده رمز پیروزی خویش را تمرینات جدی واستفاده از رهنمایی های استاد خود میداند .

قهرمان میت :

سمیر احمد فرزند نصیر احمد که در سال ۱۳٦۲ در شهر کابل تولد یافته است وی نیز تمرینات تکواندو را تحت نظر استاد آرین خیبر در سال ۱۳۷۳ در کانون ورزشی تکواندو ی جیدوکوان آغاز نموده ویکی از قهرمانان تکواندو در وزن خود میباشد نامبرده در سال ۱۳۷۸ در وزن اول تیم جوانان کاراته حایز مقام اول گردیده است . تمرینات بدون تاخیر ، عدم غیرحاضری در کانون ومهربانی استاد را به عنوان شاخص های پیروزی در رشته ورزشی اش میداند

قهرمان فورم :

فرهاد فرزند محمد سلیمان درسال ۱۳٦۰ درشهر کابل تولد یافته وتمرینات تکواندو را در کانون ورزشی تکواندوی جیدوکوان کشور تحت نظر استاد آرین خیبر در سال ۱۳۷۳ آغاز نموده عمل وعکس العمل مخصوص را در فورم به خود انحصار نموده است وی رمز موفقیت خودرا دل نه بستن به ظواهر نا پایدار زند گی ، احترام ، تواضع وتمرکز فکری میداند .

کلپ ورزشی پرورش اندام کابل تاکنون صدها شاگرد تربیه وبه جامعه تقدیم نموده است

خوانندگان محترم به سلسله معرفی مسولین کلپ ها ی ورزشی دراین شماره محترم استاد بصیراحمد «رشیدی» مسؤل کلپ ورزشی پرو رش اندام کابل رابه معرفی میگیریم ،محترم رشیدی پیرامون ورزش خود به خبر نگارما چنین معلومات دادند : چون ورزش پرورش اندام پایه واساس همه ورزش ها ست باید همه ورزشکاران درپهلوی پیشبردرشته مورد علاقه خود درتمرینات روز مره خویش بدن سازی را نیز علاوه نمایند تا قوه فزیکی آنها بلند رفته و نتیجه خوبی از تمرینات ومسابقات خود بدست آرند . من تقریباً ده سال پیش به این رشته روآورده درجریان این مدت تجارب متعددی راحاصل کردم همچنان مسابقات زیادی را نیز سپری نمودم که نتایج آن برایم عالی وآموزنده بود کلپ ورزشی پرورش اندام کابل درسال ۱۳٦۸ رسماً ثبت وراجستر فدراسیون پرورش اندام گردید از آن زمان تاکنون صدها تن ورزشکاران را تربیه وبه جامعه تقدیم داشته است . فعلاً این کلپ درحدود ۱۵۰ تن شاگرد دارد که در اوقات معین تحت نظر مربیون واستادان مجرب تمرینات خودرا پیش میبرند .

سوال : لطفاًپیرامون رشد واهمیت ورزش معلومات دهید؟ موصوف درمورد اهمیت ورزش چنین اظهار داشتند . اگر بطور مختصر عرض نمایم ورزش ثروت است که میتوان از این ثروت همه بهره گرفت و به وسیله ورزش کردن میتوان صحت وتندرستی رابدست آورد . انسانیکه صحت مند باشد صاحب ثروت است من به تمام جوانان ونوسالان مژده میدهم که درهرجا وموقفی که قرار دارند . ورزش را جز فعالیت های روزمره خودبسازند وجهت رشدوگسترش ورزش درسطح کشور دست بدست هم داده بادرنظر داشت احکام شریعت غرای محمد «ص» گام های تندتری بردارند .

شریف الله « حمیدزی»

دشریعت اوونیزی خبرتیا :

دالمپیك دملی کمیټی او ټولو آزادو کلپونو دپاملرنی وړ :

شریعت اوونیزه په پام کی لری چی په خپله سپورتی ځانګری پانه کی دهیواد وتلی کلپونه او دغه راز تکړه او نو میالی ورزشکار ان معرفی کړی . پدی توګه دهیواد له ټولو امارتی ورزشی موسسو او آزادو کلپونو څخه په ډیر درناوی هیله کیږی چی دخپلو اړوند وکلپونو ، سپورتی ځانګو ، اونومیالیو ورزشکارانو په هکله لنډمعلومات برابر او له موږ سره دسپورتی پانی په لاسیکلا او بهاینه کی مرسته وکړی .

دسدنی په لوبوکی کی، دشمالی اوجنوبی کوریا ورزشکاران تریوه بیرغ لاندی راڅرګندشول: .

دالمپیك دتړبوالو لوبو ۲۷ دوربوه اوونی مخکی دآسترالیا د سدنی ښارکی په داسی حال کی پیل شو چی دتړی له ګوټ-ګوټ نه ئی ۱۱۰ زرومینه والو ننداره کوله، د لوبو دتړی له ۱۹۹ هیوادوڅخه څه دپاسه ۱۰ زره ورزشکارانو برخه اخیستی . دالمپیك دغه لوبی په دو مره شانداره مراسموسره پیل شوی چی مخکی بی دالمپیك په تاریخ کی ساری نه وه لیدل شوی او دهر ننداره کوونکی لپاره بی دیو د تکت بیه ۸۰۰ دالره ټاکل شوی ده . ددغو لوبو درسم ګذشت مراسم دکاثی فیمرز له خوا دڅانګر ی مشعل په روښا نو لو سره پیل شول . وروسته دتړی دبیلابیلو هیوادو ورزشکاران په ځا نګړی نظم او ترتیب سره درسم ګذشت په ډول تیرشول او داحترام مراتب یې برځای کړل دغه مراسم دیونان دورزشکارانو له خوا پیل او دآسترالیا دورزشکارانو په تیرید وسره پای ته ورسیدل . دالمپیك دغه لوبی ۱٦ ورځی دوام کوی او ۱۳ ورزشی لوبغالی لا پخوا ورته ځانګړی شوی . ددغو لوبوپه ۲۸ څانګوکی به دتړی څه دپاسه ۱۰زره ورزشکاران سیالی وکړی . ددغولوبو داتلانو دتشویق او وپاړنی په خاطر دسروزرو ۳۰۰ مډالونه په پام کی نیول شوی دی. دیادونی وړده چی دشمالی او جنوبی کوریا ورزشکاران یو ځای تریوه بیرغ لاندی درسم ګذشت په ډول تیرشول او دنندارچیانو له سختو ولولو او احساساتو سره مخامخ شول .

داروپا دفوټبال داتلولی جام فرانسی وګاټه

څه موده مخکی داروپایی هیوادونو دفوټبال په سیالیوکی ۱٦ اروپایی هیوادونوپه ترتیب سره په څلورو ګروپونو کی ګډون کړی وه . دبلژیك ،ترکیی ، سویدن ، اوایتالیا ، تیمونه A په ګروپ کی دفرانسی ،دنمارك ،هالند ، او چك تیمونه B ګروپ کی دالمان ، انګلستان ، پرتګال او رومانیی تیمونه دC ګروپ «دناك اوت » دوره یی سیستم د"او په هرګروپ کی یی څلور ټیمونه ګډون کړی ، دایتالیا ، فرانسی ، یوګو سلاویا ، هالند پرتګال رومانیی ، هسپانیی او ترکیی دفټبال تیمونو ددوهمی دوری لپاره ځانونه رآیستلی . دفاینل لوبوکی دفرانسی او ایتالیی دفټبال ټیمونو په زړه پوری لوبه وکړه . دلوبی ددوهم میدان په وروستیو شیبوکی دفرانسی ټیم وکولی شول چی خپل لومړنی ګول سرته ورسوی . پدی توګه نتیجه یو دیوه په وړاندی مساوی شوه په همدی وخت کی سمدلاسه دفرانسی دټیم یو د تکړه لوبغاړی وکړی شوی چی خپل دوهم ګول سرته ورسوی او په دی ډول لوبه دوه دیوه په مقابل کی دفرانسی دټیم په ګټیه پای ته ورسیده او د ۲۰۰۰ م کال داروپایی لوبو داتلولی جام فرانسی وګاټه.

عبدالقادر څداران

اخبار ورزشی داخلی

فتبال :

درمسابقات دوستانه فټبال که بین تیم های ولایات کشور وتیم های مرکز از چندی بدینسو درستدیوم ورزشی کابل راه اندازی گردیده است . تاکنون چنین نتایج بدست آمده است : تیم منتخب فتبال ولایت ننگرهار ۲ مقابل صفر برتیم فتبال شاهین غالب گردید . همچنان تیم فتبال شیوا صفر مقابل صفربا تیم فتبال منتخب ولایت کندز مساوی گردید . سلسله این مسابقات همه روزه جریان دارد .

والیبال

به ادامه مسابقات انتخاباتی والیبال برای تیم های ملی وجوانان که به منظور انتخاب بهترین والیبالران تحت نظر فدارسیون مربوطه بین ۱۲ تیم از کلپ های آزاد وموسسات ورزشی درجمنازیوم مدرسه عالی امانی راه اندازی گردیده است . تاکنون چنین نتایج بدست آمده است ، تیم والیبال پوهنتون کابل ۳ مقابل ۱ برتیم والیبال جمعیت عالی افغان(سره میاشت غالب گردید . سلسله این مسابقات همه روزه درجمنازیوم مدرسه عالی امانی جریان دارد .

۲۳ مؤلف : دکتور عبدالرحمن رأفت باشا - مترجم : بشار

داصحابو د ژوند پلوشی

ابو عبیدة بن الجراح

ابوعبیدة د ښکلی مخ ، تازه رنګ ډنګر صورت، لوړی تنی او پر مخ د لږو ویښتانو څښتن و په لیدلو یی د سترګو دمه جوړیده، د نفس پری مینه ماتیده او د زړه ډاډ پیدا کیده .

هغه سر بیره پر دغو صفتونو د ښی مرکی او خوږو خبرو، د پوره تواضع او د ډیری حیا څښتن هم و مګر دومره و چی کله به سخته راغله او خبره به ډیره غټه شوه نو د زورور زمری په شان به بې ودانګل او هیڅ ویره به یی نکوله، هغه د توری د تیغ په شان ځلیدونکی تیره اوغوڅوونکی و .

هغه د محمدی امت امین و او نوم یی عامر، پلار یی عبدالله بن الجراح فهر قریشی او په ابو عبیده سره یی کنیه درلوده .

عبدالله بن عمر «رض» د هغه صفت کوی او وایی : د قریشو څخه دری تنه د ښکلو مخونو، ښو اخلاقو او ډیری حیا خاوندان دی که دوی تاسره خبری کوی نو هیڅ دروا غ نه وایی او که ته د دوی سره خبری کوی نو دوی تا درواغجن نه ګنی او دغه دری تنه ابو بکر الصدیق، عثمان بن عفان او ابو عبیدة بن الجراح دی.

ابو عبیده د اسلام له لومړنیو منونکو څخه دی، ده د ابو بکر د اسلام راوړلو په دویمه ورځ اسلام منلی دی او د اسلام منل یی د ابوبکر په لاس و او هغه داسی و چی ابوبکر، ابو عبیده ، عبدالرحمٰن بن عوف، عثمان بن مظعون او ارقم بن ابی الارقم د ځان سره روان کړل او پیغمبر «ص» ته یی راوستل،ا و د هغه په مخ کی یی د حقی کلمی اعلان وکړ او دوی د اسلام د لویی مانی د هسکیدلو لومړنی بنستونه وګرځیدل.

ابو عبیده په مکه کی له اوله تر آخره پوری د مسلمانانو د سختی تجربی ژوند وکړ او د لومړنیو مسلمانانو سره یی دومره سختی ، ربړونه، دردونه اوغمونه ولیدل چی د ځمکی پر مخ دده په شان د بل هیڅ دین منونکو ندی لیدلی په ازمیښت کی ثابت او په هر دریغ کی د خدای او د هغه د پیغمبر تصدیق کوونکی و مګر د بدر په ورځ د هغه ازمیښت د ډیری سختی له حیثه د ګومان کوونکو له ګومان څخه ډیر لوړ او د سوچ وهونکو له سوچ څخه وتلی و .

ابو عبیده د بدر په ورځ د صفونو منځ ته چی د هیڅ خطر او هلاکت ویره ورسره نه و په تیږو نو ورغی، مشرکانو ورڅخه ویره وکړه او په میدان کی یی یوه خوا او بله خوا د هغه چا په شان ــ دوره وهله چی له مرګ څخه یې هیڅ ویره نه و ي.

د قریشو سورو ور څخه ویره کوله، او کله چی به ورسره مخامخ شول نو ور څخه یی ځنګ کا وه مګر یوه سړی د میدان په هر ځای کی دده مخی ته ځان برابراوه ، او ده به ورته لاره پریښودله او له مخامخ کیدو څخه به یی ځان بچاو ه .

سړی پر له پسی حملی کولی ولی ابو عبیده ور څخه ځان ګوښه کاوه، سړی پر ابو عبیده ټولی لاری بندولی او د ابو عبیده او د دښمنانو په منځکی د دیوا ل په شان دریده .

کله چی ابو عبیده له دغه سړی څخه په تنګ شونو د هغه سر یی په توره وواهه او د هغه ککری یی دوه پرته کړه او په مخکی یی مړپرېووت .

ای ګرانه لوستونکیه !

ته دا هڅه مکوه او مه دا سوچ وهه چی دغه مړ سړی به څوک وی ؟ آیا ماتاته نه و ویلی چی د تجربی سخته د ګومان کوونکو له ګمان څخه لوړه او د سوچ وهونکو له سوچ څخه وتلی وی ؟

که ته وپیژنی چی وژل شوی سړی د ابو عبیده پلار (عبدالله بن الجراح) دی نو ستا سر به له ډیر تعجب او ډیری حیرانتیا څخه وچوی.

پاتي لري

دلوي څښتن په . . .

دهیواد دنظامي خبرځایو نو له خو لي خبـر راکـړ داسـلامي اردو مجاهدینو له وحشت بربر یت او له قوماندان سالاري ځخه دخلکو دژغـو رني او په ټول هیـواد کي د سـولي او امنیت د تأمـینو لو په خاطر دخلکو په مستقیمي همکاري سره ددشت ارچي او دامام صاحب ولسو الي شیرخان بندر او دآي خانم مهمه سیمه فتحه کړه او له زیاتو کلونو وروسته په دغـو سیمـو کي داسلامي اردود دمجاهدینو په بشپړي واکمني سره ددغو ولسو الیو او سید ونکو ته دادمنه سوله او امنیت او آرام ژوند تأمـین شـو . اود دغـو ولسو الیو خلك په زیاتي خوشحالي سره خپلو سیموته داسلامي اردو دمجاهدینو دورتگ هرکلي کوي . داسلامي اردو دمجاهدینو له خوا ددغو سیمو فتحي داسلامي امارت دمخا لفینو پوځي ماشین بیخي کمزوري کړي دي او دهغوي مورال با یللي ا فراد هلي ځلي کوي چې د تیښتي لپاره لاره ولټوي دتخار ولایت په مربوطاتو کي دآي خانم دستراتیژیکي سیمي فتحه یو داسي کلك گوزار دي چي داسلامي اردود مجاهدینو له خوا په مخالفینو باندي شو ي دي ځکه مخالفینو دآي خانم دسیمي له لاري هغه زیاتي پوځي مرستي تر لاسه کولي چي دسیمي دمغرضو هیوادونو او په تیره بیا دروسیي له خوا هغو ي ته لیږل کیدي . دهمدي خبرځاي دخبر له مخي همدا اوس داسلامي اردو مجاهدین په نویو فتحه شویو سیمـو کي دخپلو سنگر ونو او استحکاماتوپه ټینگښت او پیا وړي کولو بوخت دي خبرځاي زیاته کړه ماتي خوړلي دښمن له دغو سیمو ځخه دتیښتي په وخت کي زیاتي وسلي او مـهـمـات پرېښي دي اودتیښتي لاره يې غوره کړي وه له دغو سیمو ځخه داسلامي امارت دمخالفینو تیښتي دهغوي دسرد مـداراتو ترمنځ دزیاتي وارخطایي سببو نه برابر کړي دي او هلي ځلي کوي چي دخلکو له محاکمي ځخه دخلاصون په خاطرد تیښتي لاره غوره کړي داسلامي اردو مجاهدین په فتحه شویو سیمو کي دخلکو دسرمال او ناموس ددفاع او ساتني په خاطر دعالیقدر امیرالمؤ منین له عالمانه لارښوونو سره سم عمل کـوي اود بیت المال په ساتنه کي زیـاتـي هلي ځلي کـوي .

درولایت بامیان . . .

احداث بند متذکره پریروز طی محفلی در منطقه کرنغدو شهیدان ولایت بامیان آغاز گردیده وقرار است کار اعمار آن در ظرف دوماه توسط موسسه کوغر به پایه اکمال برسد .در محفل متذکره محترم ملاعبدالستار حقانی مسوولین نظامی ولایت بامیان در حالیکه عده ئی زیادی از موسفیدان واهالی منطقه ومحترم ملا نایب الله اخند معروف بکش از مسوولین نظامی آن ولایت حاضر بودند در مورد اهمیت احداث بند ذخیره آب صحبت نموده گفت امارت اسلامی افغانستان در رابطه به ایجاد وباز سازی مراکز وتاسیسات عام المنفعه اجتماعی خدماتی وصحی کشور توجه جدی نموده زیرا احداث این بند دررفع مشکلات اهالی منطقه یك اقدام موثر وسازنده میباشد . یك منبع مربوط گفت بند متذکره درساحه پنج هزار مترمربع زمین به ارتفاع پانزده متر احداث میگردد . که با احداث آن چهار هزار جریب زمین در منطقه کرنغدو شهیدان ولایت بامیان ابیا ری میگردد در پروژه احداث این بند یکصدوچهل نفر مصروف کار بوده که در مقابل کاریه آنان گندم و پول پرداخته میشود .

په جوزجان کي . . .

نبار دامنیتی موظفینو هڅاو هاند له امله یو نیم کیلو گرامه چرس دجوزجان ولایت له مربوطاتو ځخه کشف ا وترلاسه شوی وه چی دغه چرس دموظف هیات په وړاندی وسوځول اولمنځه یوړل شول.

درگردیزهشت . . .

امر با لمعروف ونهی عن المنکر ولایت پکتیا اخیراً ساحه هشت هتکار زمین را در منطقه تندان ویك جریب زمین در ساحه تیره شهر گردیز که در آن پته های چرس زرع گردیده بود از وجود بته های چرس پاکسازی گردید .در اجتماع که بهمین مناسبت به اشتراك علما موسفیدان واهالی آن مناطق تدویر یافته بود سخنرانان در رابطه به اضرار پیامد های مواد مخدر صحبت نموده از اهالی متدین آن مناطق خواستند تا در قسمت از بین بردن ومحومخدرات درکشور مطابق به هدایات وفرامین مقام محترم امارت اسلامی عمل نمایند

در شهر مزار شریف . . .

نظامی وملکی اسامی عبدالظاهر را که به سرقت ودزدی اموال مردم در مناطق مختلف متهم بود اخیراً دستگیر نموده اند و به قول منبع متذکره موصوف دراین او اخر درشهر مزار شریف در صفوف طالبان خود را شامل کرده که بعد از شناسائی هویت وچهره کاذبانه وي بلافاصله دستگیر وبه پنجه قانون سپرده شد.

ایران راکت دوېره . . .

راکت به منظور اهداف ملی مورد از مایش قرار داده شده است وازآن جهت پرتاب اقمار مصنوعی مخابراتی به مدار زمین استفاده بعمل خواهد آمد .

په هرات کي . . .

ندی ویشل شوی دی . دافغانی سری میاشتی عالی ټولنی له بی وزلو او اړو خلکو سره دخپلو بشر دوستانه مرستوپه دوام په دی وروستیو وختو کی دځه دپاسه شپږ ملیاردواووه شپیتو ملیونوانه سوه اویا زره افغانیو په ارزښت خوراکی مواد او جامی چی غنم وریجی دال نخود غوړی خیمی شړی دیگونه او داو بو نهه بو شکی پکي د ی دهرات په ښارکی د سی پی سی دلومړی او دویم لمبر کمپونو په نهه سوه شپږ دیر شو مها جرو کورنیو باندی ویشلي دی

په پکتیا کي . . .

ښارته د رارسیدلي خبر له مخي د ابوهریره په نامه یوه دینی مدرسه داحمد خیلو په ولسو الی کی دحنیفیه دارالعلوم په نامه او یوه بله دینی مدرسه دپکتیا ولایت دپټهان ولسوالی دمشهورخ په سیمه کي دیو لړمراسمویه ترځ کی پرانستل شوی په دغو مراسمو کی دپکتیا ولایت د پوهنی رئیس محترم مولو ی خیرالله حقانی دمدرسو دجوړولوداهمیت اوارزښت او دهیواد دبچیانو داسلامي روزنی داړتیا په باب خبری وکړی

د گڼون بیه له هیواده نه بهر		
ملك	شپږ میاشتني	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

دکلیو دپراختیا . . .

دپروگرامونو دپرمخ بیولو او نوروتو لنیز وفعالیتونو په پرمخ بیولوکی مرسته کوی .

٤- دتعلیم او تربیی په برخه کی : دعالیقدر امیر المؤمنین له فرمان سره سم زموږ په اداره کی دمامورینو دملکی او اداری پوهی دلوړتیاپه خاطر تعلیمی او تربیتی کورسونه او سیمنارونه جوړشوی دی .

دی زیاتوی : دکلیو دپراختیا عمومی ریاست له مرکزی ځانگوړیته دهیواد ولایتونوکی هم دریاستونو په سطحه فعالی نمایندگی لری او خپل پروگرامو نه دهمدغو نمایندگیو له خوایه کلیو کی عملی کوی . دکلیو په ساحه کی زموږ پروگرامونه دملگروملتو داداراوخیریه موسسو په مالی او تخنیکی مرستو او همدارنگه دا.ا.ا له انکشافی بودجی دخلکو په مستقیمه همکاری سره سرته رسیږی که څه هم چی دپراختیا یی پروژو په ساحه که دملگروملتو او نورو خیریه موسسو مرستی کمی شوی خو بیا هم دملگرومللتونو دبشری مرستو پروگرام ،خصوصاً دیونسیف او WFP اداری له خوادځښتاك داویو دبرابرولو ، دروغتیا یی چاپیریال او روغتیایی تبلیغاتو تعلیمی پروژوپه برخه کی دزون په سطحه هرکال له ۸۰۰نه تر ۹۰۰ پوری لاسی بمبی او برمه یی ماشینونه او دڅاگانو دتجهیزاتو مرسته کیږی . همدارنگه نوموړی اداری د ٤۰۰۰ روغتیایی تشنابونو دجوړولو اونو رو تعلیمی او تربیوی پروگرامونو په برخه کی له موږ سره په ټولو ولایتو نوکی دیو ملیون دالرو معادل مواد و او تخنیکی تجهیزاتو مرسته کوی . دیونسیف اداره په پام کی لری چی په ۲۰۰۰ میلادی کال کی له موږ سره دمرکزی زون په کچه د ۲۵۰ برمه یی څاگانو او لاسی بمبواو ۸۰۰ روغتیایی تشنابونو ، روغتیایی تبلیغاتو او تربیوی کورسونو ، داو بو رسولو دشبکو دپروژو او داسی نورو چاورکی مرسته وکړی .

ده دخپلی اداری د دری میاشتنیو فعالیتونوپه هکله داسی وویل : دلوگر ولایت په برکی برك او برکی راجان او هم دکابل ولایت په بیلابیلو سیموکی ٤٥ برمه یی څاگانی کیندل شوی او لاسی بمبی وربانذی نصب شوی دی . دغزنی ولایت ته هم دوچکالی دناوړه اغیزو دمخنیوی لپاره پایه دبرمی ماشین له لاسی بمبوسره لیږل شوی ترڅودخلکو ستونزی تربوی اندازی لری کړی . دغه رازدمیدان وردگوپه ولایت کی هم برمه یی څاگانی کیندل شوی او بمبی پری لگیدلی او دکوته عشرو داوبو رسولو شبکه بشپړه شوی ده . همدارنگه دبگرامیو په ولسوالی کی دشینی دکلی داوبورسو لو شبکه زموږ دانجنیرانو له خوابیا احیا شوی او دزمی ، کهنه خمار او موسهی داو بو رسولو دشبکو کاریه په نیږدی راتلونکی کی پیل شی . همدارنگه دروغتیا یی چاروپه برخه کی دWHOیونیسفACF او غیرحکو متی موسسو په مرسته او همکاری دکلیو په ساحه کی د۲۲ روغتیا یی کلینیکو نو له خوایه مجموعی توگه ۲۵۲۰۰ ناروغان تداوی شوی وی او په وړیا توگه درمل ورکړل شوی دی . دغه راز په هره اوونی کی یوځل ۷۵۰ تنوسو تغذی ماشومانوته غذایی مواد چی دACF له خوابی مرسته شوی ویشل کیږی . همدارنگه روغتیایی لازم تبلیغات او تعلیمات په پرله پسی توگه دکابل او لوگر په ولایتونوکی دناریته او ښځینه داکترانو او میلغینو له خوا پرمخ بیول کیږي .نوموړی زیاتوی دکلیو دپراختیا عمومی ریاست دخپل ۱٤۲۱هـ .ق کال له پلان سره سم بو شهیر ساختمانی او ټولنیزی خدماتی پروژی دا.ا.ا دانکشافی بودجی په مرسته په نظرکی نیولی دی چی له منظوری وروسته به په کلیو کی تطبیق شی . دی زیاتوی : ځرنگه چی دافغانستان خلکو او ټولو ټبرو الو ته ځرگنده ده دافغانستان ټولی سیمی او په ځانگړی ډول جنوب لویدیځ او مرکزی ولایتونه دو چکالی له امله سخت زیانمن شوی او په نتیجه کی د ٦٥٪ په شاوخوا کی عادی او برمه یی څاگانی وچی شوی او له همدی امله دکرکیلی حاصلات په ډېره زیاته پراخه ساحه کی متاثره شوی یا له منځه تللی دی . په پای کی دکلیو د پراختیادعمومی ریاست اداری مرستیال محترم مولوی رحیم الله داسی وویل : موږ له الله «ج» نه راضی یوچی دخلکو خدمت ته ولاړیو . زموږانجینیران او نور پرسونل تل هڅه کوی چی دکلیو دخلکو ستونزی لری کړی . خومتاسفانه دا.ا.ا داقتصادی ستونزو له کبله ټېوالی مرستی هم هومره نه دی چی د خلکو ټول مشکلات لری کړی شی ، موږ له خپلو هیواد والو نه په ډېردرناوی هیله کووچی دوی دباندنیو موسسو انتظارونه باسی او یو تربله په خپلو کی دوروری لاسونه سره ورکړی.او خپلی ستونزی حل کړی . البته زموږ تخنیکی مرستی دتل لپاره ددوی په خدمت کی دی . زه یو ځل بیا له ټولو ئې یو ال او مرستند ویه موسسو اوارگانونو ځخه هیله کووم چی دوچکالی او دبیا ودانو لو لپاره دکلیو د پراختیا له عمومی ریاست سره مرسته وکړی ترڅو دکلیو داو سیدونکو ژوند وژغورل شی او دخپل کورکهول اوکلی نه بیځایه او یا کنلوی مهاجرت ته مجبور نه شی . ځکه په دې ډول حالت کی به دا.ا.ا او نور ومرستند ویه سازمانو نو ته ډېری ستونزی رامنځ ته شی .

عبدالبصیر

درمدرسه حبیبیه درحدود ۲۰۰۰ . . .

حبیب الله خان آغاز میگردد . مدرسه حبیبه درسال ۱۲۸۲ هـ .ش مطابق ۱۹۰۳ م تاسیس گردید . حبیب الله خان اموراداری وتدریسی آنرا به برادرش سردارنصرالله خان سپرد وسرمدرس آن احمد الدین «هندی »بود معلمین داخلی وهندی به تدریس مشغول بودند تعداد متعلمین «٤۰۰» واز معلمین «۱۰» نفربود . مصارف معاش معلمین ومستخدمین مکتب سالانه به یکصدهزار روپیه به پیسه کابلی بالغ میگردید . کتب مطبوع فارسی ، پشتو واردو از انجمن حمایت السلام لاهور وارد میگردید دراویل علاوه برزبان فارسی وپشتو اردوهم از ابتدا ئیه آغاز میشد . تدریس لسان انگلیسی از صنف چهارم شروع شد . درسال ۱۳۲٦ هـ .ش داکتر عبدالغنی مدیر کالج لاهور به غرض سرشته داری مکتب حبیبه استخدام گردید و برادرش مولوی نجف علی مفتش عمومی مکتب مقررشد . موصوف افزودند درسال ۱۳۲۲ هـ .ش انجمن بیت العلوم (دارالتالیف) درمکتب حبیبیه تاسیس شد . مولوی عبدالرب ریاست این انجمن را به عهده داشت . درسال ۱۳۳۱ هـ .ش سردار عنایت الله خان آمر مکتب مقررشد ند انجمن معارف تشکیل شد اعضای این انجمن بالغ به (۱۰) ده نفربود هیت معلمین داخلی وخارجی درآن عضویت داشتند هفته دوبارانجمن دایر میگردید وتخستین کاراین انجمن ترتیب نظامنامه بود که به اساس خط مشی دراموراداخلی مکتب تعین وتجدید گردید وطی (۸۵) ماده حدود وظایف مفتش عمومی سرشته داری مکتب مدرس اول مصحح متعلمین ومتعلمین قواعد امتحان قواعد سندات تعلیمی قواعدعطایا یا والغامات قواعد رخصتی وظایف کتابد از وظایف تحویلداروظایف دایره وغیره تعین گردیدبه اساس فیصله معارف در جات تعلیم چنین گردید که بعداز صنوف ابتدائیه (رشدی) و(اعدادی) دوشعبه شود فارغ التحصیلان یك شعبه برای انجام وظایف مملکت تربیه وشعبه دیگر جهت تحصیلات عالی بخارج فرستاده شوند . درسال ۱۲۹٦هـ .ش -۱۳۳٦ هـ .ق اولین دسته شاگردان از اعداد سوم مکتب حبیبیه فارغ گردیدند این فارغ التحصیلان به دورشته تقسیم شدند دسته اولی که (۷) هفت نفر بودند در صنف تهیه داکتری که دوره تحصیل آن دوسال بود شامل شدند دسته دوم که (٦) شش نفر بوُند به صنف تهیه انجنیری برق انتخاب ومشغول تحصیل گردیدند .وبعضی از ایشان به خارج هم اعزام شدند . آنها اولین دسته فارغان تدریسات ثانوی افغانستان را تشکیل میدهند وعبارت اند از شاغلی علی محمد معاون اول صدارت عظمی وقت ، شاغلی سرادرفیض محمد خان ذکریا ، شاغلی سردارسطان احمد ،شاغلی غزیزالرحمٰن ،فتحی ،شاغلی حبیب الرحمٰن ، شاغلی عبدالجبار و شاغلی انورعلی . نامبرده علاوه میکند . درسال ۱۲۸۹ هـ .ش مجله ماهانه بنام معرف معارف به نگارندگی محمد امیر مجوز رویکار آمد نشان معارف که عبارت از قلم ودوات ،کتاب وشمشیر داخل خوشه گندم قرار داشت تثبیت گردید .از سال ۱۳۰۸ هـ . ش تا سال ۱۳۲٦ هـ . ش اداره مکتب بدست مدیران افغانی اداره میگردید . وی افزودند: در اوایل سال ۱۳۲۷ آقای بشتل امریکا یی مدیر تدریسی مکتب تعین گردید . وتاسال ۱۳۳۲ هـ .ش اداره مکتب را مریکا ئیان به عهده داشتند . از آن به بعد تاکنون جوانان افغانی در راس امور تدریسی واداری واقع گردیدند . این مدرسه اشخاص ورجال برجسته را به جامعه تقدیم نموده است . سند فراغت آن اعتبار بین المللی راکسب نموده بدین ملحوظ اکثریت فرزندان زمامداران واشخاص نام اور ویا نفوذ وقت تربیه شده این مدرسه میباشند . درسال ۱۳۰۸ هـ ش پس از رفع عائله داخلی معارف مجدداً احیا گردید ومکتب حبیبیه دوباره زنده شد . چون مکتب مذکور درشهر ارا موقعیت داشت سقاویان آنرا آتش زده بودند بدین لحاظ صنوف (اعدادی)آن دربوستان سرای (وزارت معارف فعلی) ومتعلمین (رشدی) وابتدائی آن درباغ دوم شهرآرامنتقل گردیدند بعداز آن این مکتب به کنار صدارت عظمی منتقل گردید . وبعداً به تعمیر یکه فعلاً بنام مدرسه عالی عایشه درانی مسمی است واقع پل باغ عمومی انتقال گردیدند . تااینکه تعمیر فعلی آن به کمك ایالات متحده امریکا به شکل مُد رن وعصری بصورت پخته واساسی در چهار طبقه با وسایل وسامان آلات ومواد درسی لابراتوارها مجهز به مواد درسی کمیا ، بیولوژی ،فزیك کتابخانه ومیدان های ورزشی در یك ساحه وسیع واقع خواجه ملاپا ساحه ایوب خان مینه اعمار گردیده است . درمدرسه مذکور از بدوتاسیس الی اکنون دروس مضامین علوم دینی وعصری مطابق اساسات دین مبین اسلام و شریعت غرای محمد ی «ص » باشرایط وایجابات عصروزمان وضرورت مبرم به نصاب تعلیمی ساحه ومنطقه درپرتو پروگرامهای مطروحه ملی و بین المللی توسط استادان ورزیده ومجرب پیش برده شده است . دراخیر محترم ملا محمدظاهر «رحیمی » مدیر عمومی مدرسه عالی حبیبه چنین گفتند .

باوجوداینکه تعمیر مدرسه دراثر جنگهای اخیر کابل شدیداً خسارمند گردید وساحه اطراف آن به ویرانه تبدیل شده است بازهم اکثریت علاقمندان از ساحات دور دست شهر کابل بخاطر فراگیری دروس به این مدرسه میآیند . وسالا نه به صدهاتن فارغ التحصیل میگردند .همین اکنون تقریباً (۳۰۰۰) سه هزار طالب العلم در (٤۰) شعبه توسط (٦٥)تن استاد ورزیده وسابقه داربه تدریس مصروف میباشند . دروس مضامین علوم دینی وعصر ی را با وجود پرابلم های اقتصادی وعدم وسایل درسی در تربیه سالم فرزندان کشور با روحیه اسلامی مصروف آموزش وپرورش نوباگان جامعه اساسی باشد.

ذبیح الله «غزیزی »

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Editor: Ghulam M.Farooq
Printed by: Emiarte Printing Press